## پروان ولایت ته د کلیو پراختیا انستیټوټ د سیماول اندونګ ټیم سفر

د سیماول اندونګ تخنیکي ټیم د پروان ولایت ته د می په 13 مه، سفر وکړ تر څو په هغه ډله ایزو فعالیتونو کې برخه واخلي چې د میان شاخ کلي د خلکو لخوا په لاره اچول شوي و.

د دې سفر موخه د کلیوالو هڅول ترڅو له نویو او مؤثره لارو په ګټه اخیستلو د دې ماډل اصلي برخې ( همکاری، ځان مرسته او وړتیا) نه یوازې په پروان بلکې د افغانستان په 33 نورو ولایتونو کې هم د حکومت او نورو ځایي ادارو په مرسته عملي شي.

د میان شاخ د کلي پراختیایی شورا مشر وویل: "د دې تولنیز عمل موخه د کلی د خلکو ترمنځ د همکاری کلتور پیاوړتیا وه او دوی هڅول ترڅو د موجوده تاسیساتو په کارولو سره کوچني او لوی فعالیتونه ترسره کړي، او په تدریجي توګه به په کلي کې د پام وړ پرمختګ وشي." سربیره پردې، د کلي ظاهري ښکلا او ښه والي د دې پرمختللي ماډل لومړیتوبونه ګڼل کیږي. هغه دا هم زیاته کړه چې د خلکو بدلول د پرمختیا په لورې د راتلونکو فعالیتونو لپاره اړین دي ".

په دې ډله ایزه فعالیت کې دوه برخې شاملې وې: لومړی، د یو کیلومتره سړک د اوارولو پروژه چې د لسګونو کلیوالو لخوا په رضاکارانه توګه او د ګاونډیو کلیو خلکو لخوا ترسره شوه. دا لاره د 600 هکتاره کرنیزه ځمکه له نورو لویو سړکونو سره نښلوي.
د پروګرام په پیل کې د چاپیریال مسلو ته د سیماول اندونګ د اصولو او لید، د ټیمي کار او د همکاری په اړه معلومات وړاندی کړل. د دې موخې لپاره، د ټولنیزو فعالیتونو لپاره (د حشر) پیاوړتیا، د کلی ډیری با نفوذه مشرانو، ملا امامانو او د سمول اندونګ تخنیکي ټیم د دې په اړه خبرې وکړې.






## د »یو کارمند_یو کتاب« د کتاب راټولولو یو میاشتنی کمپاین

### د افغانستان د کلیو د پراختیا انستېتیوت کي د »یو کارمند_یو کتاب« د کتاب راټولولو یو میاشتنی کمپاین پیل شو.

د افغانستان د کلیو د پراختیا انستېتیوت د کتاب د نړیوالي ورځې په مناسبت د کتاب را ټولولو یو میاشتنی کمپاین چې لاندې موخې لري، پیل کړ.

- د وزارت د کارکوونکو تر منځ د مطالعې او کتاب لوستلو د کلتور دودول او پراخول؛
- د افغانستان د کلیو د پراختیا انستېتیوت د اوسنی کتابخانې غني کول؛
- د کډون او سهمګیرۍ د کلتور دودول؛

د یادوني وړ ده چې دغه کمپاین د اپرېل په ۲۳ مه چې د کتاب له نړیوالي ورځې رسه برابره، ده په رسمي ډول پیل شو او د کمپاین دوره په پیل کې د یوې میاشتې لپاره وه، چې د اپریل 23 څخه تر مۍ 23 پورې، خو د کارکوونکو او د کمپاین ګډونوالو د غوښتنو سره سم، یوه میاشت نوره هم وغځول شو.

راځئ چې د انستېتیوت کتابخانې ته د یو کتاب په ډالۍ کولو رسه د دغه کمپاین برخه وګرځو.



## د افغانستان د کلیو د پراختیا انستیټوت اداري غونډې جوړول

د افغانستان د کلیو پراختیا انستیټوټ چې د عبدالصمد بهیر ستانکزی په مشرۍ جوړه شوه. غونډه د پنجشنبې په ورځ د غوایې په 26 د انستیټوټ د ټولو کارکونکو په شتون کې ترسره شوه، ترڅو د انستیټوټ پر فعالیتونو او د ټولو برخو راتلونکو پلانونو څخه خبر او په دې اړه خپل لیدونه شریک کړي.

د انستیتیوت سرپرست اجرائیوي رییس ښاغلي ستانکزی وویل "

زموږ اصلي موخه دا ده چې د انستیټوټ ټولو برخو سره په همغږۍ د راتلونکو شپږو میاشتو او 2020 کال لپاره د داسي یو واحد پلان جوړول چې دا څلور مهمې نظرونه تعقیب کړی:

.1 د ملي پرمختیا او سولې چوکاټ؛
2. د ملي لومړتوب پروګرامونه؛
.3 د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ستراتیژي؛
4. د کلیو پراختیا انستیټوټ لپاره د پنځه کلن ستراتیژیک پلان؛

د دې غونډې په جریان کې، د څېړنې او سروې، مسلکي او تخصصي زده‌کړو، د کلیوالي ټیکنالوژۍ پارک، د بورسونو او فیلوشیپونو، معلوماتو څېرول آمریتونو او د جنډر برخې د خپلو شپږو میاشتو او راتلونکي کال پلانونو د پریزنټشن له لارې وړاندې کړ.





